# داغونه ارمانونه، ددين دنيا توښه

اسرار د طورو

**توښه ددين او د دنيا خټکه**
**په زخمي زړۀ سوي داغونه لرم**

**(اجمل خټک/ د غېرت چغه)**

د پښتنو لوئے انقلابي شاعر او قامي اتل خۀ د پاسه نيمه پېړۍ پخوا په ځوانه ځوانۍ کښې دخپل زخمي زړۀ د سوو داغونو ذکر کوي وائي چې دا زخمونه داغونه پرهرونه زما د دين او دنيا توښه ده.

نن مونږ د خپل قامي اتل د ځوانۍ د والهانه کلام په آئينه کښې لټون کوو چې هغه کوم ارمانونه، حسرتونه او سوالونه دي چې د يو ځوان زلمي ننګيالي پښتون او انقلابي شاعر په زړۀ ئې داغونه جوړ کړي وو او دغه داغونه داسې پاک او سپېڅلي داغونه وو چې دا غېرتي مبارز ئې د دين دنيا توښه ګڼي.

ښاغلي اجمل خټک په ١٦ اپريل ١٩٥٢ء د "يو څو خبرې" د سر خط لاندې د خپلو شېرينو او دردناکو نغمو په حقله د "غېرت چغه" داسې ستائيلې وه.



"د ژوبل احساس يو څو څړيکې، د زخمي غېرت يو څو غورځنګونه، د سرې وينې يو څو ترم څاڅکي، د اولسي جونګړو يو څو شنۀ اسويلي، د غربت يو څو ترخې تجربې، د سرمايې يو څو ناکردې، د غاؤره اقتدار يو څو رندې لتې او ورسره د پښتونولۍ احساس چې زما شاعر زړۀ د پښتني فن په سور رباب وټنګولو نو زۀ پوه نۀ شوم چې خوږې سندرې ترې جوړې شوې کۀ سوې ساندې...."

دا څړيکې، دا وينې، مونږ ليدل او محسوسول غواړو نو بايد چې د کتاب پاڼې راواړوو او وګورو چې د خوشحال خان بابا د خاورې نه پورته شوې نغمه څۀ تمنا لري، څۀ پېغام ورکوي؟ دنن نه اتۀ پنځوس کاله وړاندې د پښتنو په سيمه څۀ تېرېدل، د انګرېز د غلامۍ نه وطن آزاد شوے ؤ، د هندوستان د تقسيم په نتيجه کښې د مذهب په نوم په وطن کښې فسادات وو، قتلونه، مرګونه وو، خونرېزي وه، اورونه بلېدل، کورونه سوزېدل،

لوږه تنده، بې سروساماني او بې تنګي زور وه، عصمتونه، عزتونه تالا والا وو، بل طرفته څو کسان د نوي ملک او بې قراره قوم اقتدار ته په هوس کښې وو، دواړو غاړو ته د سوؤ لوؤ خلقو قافلې وې، د هغوي نه پاتې کورونه، مالونه، جائدادونه د حریصانو په نظر کښې وو، د مال اقتدار او شهرت اوړو وفادارۍ بدلولې. د پښتنو په سیمه دغه هوسناک خلق قابض کړے شو، د آزادۍ مجاهدین په قېدخانو کښې بندیوان شو، جائدادونه ئې ضبط شو، ووژل شو او د کومو خلقو په خُلهٔ کښې چې ګویانه ژبه وه، د هغوي ژبې پرېکړې شوې، په قلم، په فکر، په تقریر، په احتجاج، په ویر پابندي ولګېده. اجمل خټک شاعرؤ، ادیبؤ، پښتونؤ، ځوانؤ، هغه د صوبې د غټ کټ حاکم په نظر کښې راغے، دا غریب خواري کښ شاعر ئې د خپل ظلم نخښه کړو، د ناکرده جرم ظالمانه سزاګانې ئې ورکړې، کور ئې ورله لوټ کړو، خو د هغهٔ ژبه لا تېره او نغمه ئې لا سره شوه. هغهٔ خپلو ملګرو ته چغه ووهله چې:

**ملګرو تش په لوګېدو ونهٔ شوه**
**ځٔ چې لمبه شو دا خپل ځان وسوزو**

د هغهٔ ارمان ؤ چې د نوي ګل خصمانه وکړو چې ښېرازه شي، خوشبو او خوشحالي خوره کړي، هغه داسې منور ذهنونه راپارول غوښتل چې د ځان او جهان د ارتقاء په راز او سبب پوهه وي او د اولس د سوکالۍ د سپرلي خصمانه کولے شي او د "دغه سپرلي د ګلونو په مینه کښې سرو لمبو ته وردانګل وصال ګڼي."

**د اجمل خټک د سوي زړهٔ یوه داغ د وطن په سیاسي جمهوري اتحاد کښې د قومي سیاسي او معاشي خودمختارۍ ارمان دے. دا خودمختاري د نړۍ د قومونو بنیادي حق دے**

ښاغلے اجمل خټک یو ځل د پېښور ښار په خوا کښې په "بالا مانۍ" کښې ناست دے، دا د ۱۹۵٤ء زمانه ده، ځوان اجمل خټک په میاشتو میاشتو د تانه دارانو په تعذیب خانو کښې د ناترسه حاکمانو د ړندو لتو دردونه زغملي وو، د قلم، کاغذ او خط و کتابت اجازت نهٔ ؤ، خو د شاعر د زړهٔ غوټۍ به ګویانه وه، د ګلونو خوشبویۍ به ئې شیندلې، دا ئې "ګناه" وه. د ۱۹۵۲ء ګرمي وه، وئیل ئې:

**خدائے خوره غاړه راکړې د وینا ده**
**د ایمان ائینه مې صافه بې ریا ده**
**د ګونګټ غوندې غونډان رغړولے نهٔ شم**
**یو بلبل یمه بس دغه مې ګناه ده**

ما د بالامانۍ د ۱۹۵٤ء خبره کوله، د قېدخانو عذابونو تزنولے شاعر د "جنت" په تصور کښې مختلف ذهنونه لټول. ملا صېب "تازه مېوې او د شودو رودونه" یاد کړل، طالب "ښائسته حورې او شنهٔ خالونه" وستائیل، شېخ د "غلمانو او سُرسار" خبره وکړه، خان د " سرو سپینو عنبري کورونو" ته جنت ووئیلو، مزدور " مړه ګېډه او

خوارۀ خوبونه" جنت وګڼۀ، لېوني فلسفي "د انسان خوشحالۍ" ته د جنت نوم ورکړو نو اوس زمونږ قومي انقلابي شاعر د خپل زړۀ نندارہ وکړه چې اوتر اوتر بره شين اسمان ته ګوري او غوربږي وائي :

**وئيل ئې اے د لا مکان خاونده**
**په خپل مکان کښې خپل اختيار جنت دے**
**ګڼي د دغه لېونتوب په نامه**
**کۀ نار وي نار کۀ دار وي دار جنت دے**

د اجمل خټک د سوي زړۀ يوه داغ د وطن په سياسي جمهوري اتحاد کښې د قومي سياسي او معاشي خودمختارۍ ارمان دے.دا خودمختاري د نړۍ د قومونو بنيادي حق دے، دا حق قومونو له د الله(ج) پېغمبرانو هم غوښتے او ګټلے دے. په قرآن کريم کښې د فرعون او د موسیٰ عليه السلام قصه ده، حضرت موسیٰ عليه السلام خپل قوم د فرعون د غلامۍ نه ازاد کړے ؤ، په "احتجاج" نومي نظم کښې اجمل خټک وائي "چې زۀ د ورورۍ، عدالت، مينې، محبت، انسانيت او جمهوريت يو نظام جوړوم، هغه د لندن نه د نازل شوي نبي، د انګرېز د خليفه بابا، په نوټونو خرڅېدونکے ايمان نۀ مني، هغه داسې تعليم هم نۀ خوښوي چې د ظلمي نه جينۍ جوړه کړي، د بمونو او تشدد نه خلاف دے، د رحمت او احسان په عقيده ولاړ دے، فرعون له موسیٰ ګوري وائي:

**زمانې تا کۀ فرعوني راختې**
**زۀ درته بيا يد بيضا لټوم**

(احتجاج/ د غېرت چغه)

د يو حساس شاعر،د يو قامي راهنما، د يو خوږمن او انسان دوست دانشور په سوي زړۀ دغه قامي او ملي ارمانونو داغونه جوړ کړي دي او الميه دا ده چې د يوې اوږدې زمانې نه د پښتونخوا دا سيمه د ورورۍ، عدالت، جمهوريت او انساني اکرام او عزت د نظام نه محرومه ده. دلته د ظلم، جبر او بې انصافۍ پنجه په تن بدن او زړۀ او ضمير ښخه ده. لوږه، جهالت او بدامني ده نو زمونږ قومي شاعر ئې انقلاب ته هڅولے او پارولے دے، هغه بدلون غواړي، انقلاب غواړي او دې بې



اجمل خټک وائي "چې زۀ د ورورۍ، عدالت، مينې، محبت، انسانيت او جمهوريت يو نظام جوړوم، هغه د لندن نه د نازل شوي نبي، د انګرېز د خليفه بابا، په نوټونو خرڅېدونکے ايمان نۀ مني، هغه داسې تعليم هم نۀ خوښوي چې د ظلمي نه جينۍ جوړه کړي، د بمونو او تشدد نه خلاف دے، د رحمت او احسان په عقيده ولاړ دے

ارامه جذبې هغه عملي مېدان ته رادانګولے دے، د ظالمانو حاکمانو ستم ته ئې ودرولے دے او دې نازک مزاج انسان له ئې فولادي حوصله ورکړې ده. دا حوصله د هغۀ د ساهو فطري عقيدې او رښتوني دين عطيه هم ده. هغۀ مبارزه وکړه، لا کوي ئې خو د ضعف او بدني مرضونو په وجه ئې د پرواز مادي ځانګونه کمزوري شوي دي. لېکن د فکر و نظر روحاني الوت ئې جاري دے، ارمانونه ئې لا نيمګړي دي، د زړۀ داغونه ئې هغه شان سوي لوي دي خو دا پښتون مسلمان ډاډه دے چې دا زخمونه دا داغونه ئې د دنيا او اخرت توښه ده:

**توښه د دين او د دنيا ختکه**
**په زخمي زړۀ سوي داغونه لرم**

د هغۀ په زخمي زړۀ دا سوي داغونه د هغۀ د ذاتي خواهشاتو او نفساني مطالبو د عدم تکميل په وجه نۀ دي، هغه د يو لوئے نامتو خاندان غړے دے خو د غريبئ او مالي ناتوانئ په مشکلاتو کښې ئې سترګې غړولې وې، هغه په خپل کور کښې د ګڼو خوښندو ايکي يو نازبين ورور ؤ خو د زلميتوب په سپرلو کښې ئې هم د زلميتوب تقاضو ته غاړه نۀ وه ورکړې، شاعر ؤ خو د چا دنګې سپينې غاړې سره ئې د لونګينو زلفو په تال خپل فکر نۀ ؤ زنګولے، فنکار ؤ خو د سترګو په کاسو کښې ئې د عيش وعشرت جامونه نۀ ځنبل، د "غيرت چغه" کښې "زۀ هم زلمے يم" نومي شاهکار نظم د دې خبرې ثبوت دے چې هغه په شعوري طور په خپلو نفساني خواهشاتو ګټه اېښې وه او د خپل اولس په درد او غم کښې ډوب ؤ. د مېندو خوښندو په سرتوره ورځ سوزېدۀ، د قام د بچو په بې ارزئ ژوبل ژوبل ؤ، هغه د وطن يوه حياناکه" پېغله" په پړوني کښې پټه ليدلې وه چې د ښائست پلوشې ئې د جنت د وړمو په شان د نشه نشه وجود نه راوتې، د ګلو دا ميره ورته باغوانه ښکاري چې ګڼي ګلفروشي کوي يا چا مئين ته د ګلونو ډالۍ وړي خو دا قسم ګمانونه د بشري هوس او شېطاني وسوسو نه راټوکېږي. زمونږ قامي انقلابي شاعر په شعوري طور د خپلو زلمو مخې ته يو ډېر ښکلے د جنت د حورو په شان پاکيزه او د ګلونو په شان خوشبويه تصوير ږدي نو دا "پېغله" ورته د قام په ننګ د شهيد شوي ورور يوه دردېدلې خور ښيي چې وائي:

**خدايه سپرلے کړې چې دا سرې وينې ګلونه شي بيا**
**د خوېندو، مېندو لوپټې سرۀ نشانونه شي بيا**

**هغه کتابونه چې تازه چاپ شوي دي:**

روښانه سباوون (عبدالحميد زاهد) شاعري
تنده مې ماته شوه (عبدالهادي حيران) افسانې
يخ يون (شهباز محمد) سفرنامه
پختون (اردو) (عابد خان) د غني خان د The Pathan ترجمه.
د وړو وړو خدايانو دې بنده کړم (سيف الرحمن سليم) شاعري.
ګبين (پروفيسر جهانزيب نياز) شاعري.
د ډيکتاتورئ نه ډيموکراسئ ته (م- رقيب) د ډاکټر جين شارپ د کتاب ترجمه.
تاريخ ساز شخصيت خان عبدالولي خان اهل قلم کی نظر مين (محب وزير)
ژوند ليک (سالارکريم داد خان خدائي خدمتګار)